**د ستراتيژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز**

# تحلیل هفته

**ګڼه: 480**

(10 - 15 سرطان 1404 هـ ش)

## د اسلامي هېوادونو په دريځونو کې  د اسلامي همکارۍ سازمان د ونډې څېړنه

---




دا نشريه د افغانستان او سيمې د مهمو سياسي، امنيتي، اقتصادي او ټولنيزو پېښو د تحليل اوونيزه خپرونه ده چې د ستراتيژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز له لوري په پښتو، دري، انګليسي او عربي ژبو چمتو کېږي او خپرېږي.

# په دې ګڼه کې لولئ:


- د اسلامي هېوادونو په دريځونو کې  د اسلامي همکارۍ سازمان د ونډې څېړنه ........................ 3
- د اسلامي هېوادونو په دريځونو کې د سازمان د غونډو ونډه ............................................ 3
- ايا د سازمان دريځونه د هغې د غړو اجرايوي پاليسي ګرځي؟............................................ 4
- د تېرې غونډې د پرېکړه لیک محتوا ته یوه کتنه ............................................................ 6
- پایله ................................................................................................................. 7
- وړاندیزونه ......................................................................................................... 8
- سرچينې ............................................................................................................ 8


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

## د اسلامي هېوادونو په دريځونو کې د اسلامي همکارۍ سازمان د ونډې څېړنه

### سريزه

د اسلامي همکارۍ سازمان په تېره غونډه کې چې د سازمان د غړو هېوادونو د بهرنيو چارو وزيرانو ۵۱مه غونډه وه، د ۲۰۲۵ کال د جون په وروستيو کې د ترکيې په استانبول ښار کې ترسره شوه، چې په کې د اسلامي نړۍ د اندېښنې وړ بدلونونه، په ځانګړې توګه د غزې د کړکيچ زياتوالی او د ايران او اسراييلو ترمنځ د مخ په زياتېدونکی تاوتريخوالی په اړه بحث وشو. په غونډه کې د غړو هېوادونو د بهرنيو چارو وزيرانو د اسراييلو پر پاليسيو نيوکه وکړه او د بشري حقونو د سرغړونو او سيمه ييز تېري په وړاندې يې د مسلمانو هېوادونو ترمنځ د ريښتينې يووالي غوښتنه وکړه. د ترکيې ولسمشر هم د يو عادلانه نړيوال نظم په جوړولو کې د اسلامي نړۍ په رول ټينګار وکړ، د تفرقو د پای ته رسولو او د ګډې ډيپلوماسۍ د پياوړتيا غوښتنه يې وکړه. په ورته ډول د اسلامي هېوادونو چارواکو، د ايران اسلامي جمهوريت په شمول، اندونيزيا، ماليزيا او پاکستان، د فلسطين د خلکو په ملاتړ او د اسلامي نړۍ لخوا د بيړني اقدام اړتيا لپاره همغږي دريځونه غوره کړل. د غونډې په پای کې يوه ګډه اعلاميه يا پريکړه ليک خپور شو چې په کې په عدالت، سوله او پر اسلامي همکارۍ ټينګار وشو.

د غړو د شمېر له پلوه د اسلامي همکاريو سازمان، د ملګرو ملتونو وروسته دوهم لوی نړيوال سازمان دی، چې په نړيوال نظم کې يو ځانګړی مقام لري. دا سازمان چې په ۱۹۶۹ز. کال کې د اسلامي مقدساتو د دفاع او د اسلامي امت د پيوستون د پياوړتيا په موخه رامنځته شو، تر ننه يې په ټوله نړۍ کې د مسلمانانو د حقونو د دفاع، سياسي همغږۍ، اقتصادي او کلتوري همکارۍ لپاره يو پليټ فارم چمتو کړی دی.[1] سره له دې چې د غړو هېوادونو ترمنځ ستراتيژيک يووالی او توپيرونه شتون لري، خو دې سازمان هڅه کړې چې د فلسطين حمايت، په غير اسلامي هېوادونو کې د مسلمانو لږکيو ملاتړ او د اسلاموفوبيا سره د مبارزې په برخه کې مهم رول ولوبوي. له همدې امله، دا مقاله هڅه کوي چې د دې سازمان تاريخي رول، د غړو هېوادونو پر پاليسۍ جوړونې باندې د هغې د غونډو اغيزې او د وروستۍ غونډې د پريکړه ليک محتوا تحليل کړي.

### د اسلامي هېوادونو په دريځونو کې د سازمان د غونډو ونډه

لکه څنګه چې پورته يادونه وشوه، تر اوسه پورې د اسلامي همکاريو سازمان د غړو ترمنځ ۵۱ غونډې ترسره شوې دي، چې په اسلامي نړۍ کې په مهمو بدلونونو تمرکز کوي، چې د ځينو يې موږ دلته يادونه کوو. د دې سازمان لومړۍ غونډه د ۱۹۶۹ز. کال د سپتمبر پر ۲۲مه د مراکش په پلازمېنه رباط کې د صهيونيستانو له خوا د الاقصی جومات د قصدي سوځولو وروسته ترسره شوه.[2] په سوريه کې يې د تاوتريخوالي

په اړه، په کال ۲۰۱۲ ز. کې په مکه کې یوه فوق العاده غونډه وکړه، چې په ترڅ کې یې سازمان کې د سوریې غړیتوب وځنډول شو، خو د احمد الشرع په مشرۍ د نوي حکومت په راتګ سره دا غړیتوب بیا ورکړل شو.[3] همدارنګه په ۲۰۲۱ ز.کال کې، د بهرنیو چارو وزیرانو یوه غونډه په اسلام آباد کې جوړه شوه چې په افغانستان کې د بشري بحران په یې اړه تمرکز درلود او هم هماله یې د اسلامي پراختیایي بانک تر څارنې لاندې د افغانستان د بشري مرستو صندوق جوړ کړ.[4] د غزې جګړې ته د پام اړولو لپاره په ۲۰۲۳ کال د سعودي عربستان په ریاض کې د اسلامي هېوادونو د مشرانو په ګډون یوه بیړنۍ غونډه وشوه، چې په ترڅ کې یې د سمدستي اوربند، د محاصرې پای ته رسولو او د بشري مرستو د لیږلو غوښتنه وکړه.[5] په دې وروستیو کې، پر ایران د صهیونیستي رژیم د حملې د ارزونې لپاره یوه فوق العاده غونډه وشوه، چې په ترڅ کې یې دوې یوه اعلامیه خپره کړه چې پکې د ایران پر وړاندې د اسراییلو اقدامات وغندل شول او د جګړې د پای ته رسولو غوښتنه وشوه. له همدې امله، دا لیدل کیږي چې دا سازمان د اسلامي نړۍ د مهمو بدلونونو په رڼا کې تل د اسلامي امت د مسلو په ملاتړ غونډې جوړې کړې دي او د خپلو ۵۷ غړو د اکثریت په شتون کې یې بیانونه او پرېکړې خپرې کړې دي.[6]

بې له شکه، د اسلامي همکاریو سازمان له خپل تاسیس راهیسې په ځینو برخو کې د پام وړ لاسته راوړنې لرلې دي. شاید د دې سازمان لومړۍ بریا دا وي چې په نړیواله کچه د اسلامي امت د یوازینۍ اداري یا واک په توګه خپل دریځ رامنځته کړی چې تل توانیدلی د اسلامي هیوادونو استازي د امت د مهمو مسلو لکه فلسطین، روهینګیا، کشمیر، افغانستان او سوریې په اړه د یو چت لاندې راټول کړي او خپل ګډ غږ نړۍ ته ورسوي. همدارنګه دا سازمان توانیدلی د نورو ادارو، لکه اسلامي پراختیایي بانک او اسلامي تعلیمي او کلتوري سازمان (ISESCO) هم جوړ کړي، [7] د دې جوړښتونو سربېره دې اداري د بیړنیو غونډو او د امت د مسلو په ځواب کې د ګډو پرېکړو لیکونو په خپرولو لکه د ځانګړي تماس ډلې د همغږۍ کړنو تنظیم کولو وړتیا ښودلې ده. د دې لاسته راوړنو سربېره، د اسلامي همکاریو سازمان هم له ګڼ شمېر ننګونو سره مخ دی، چې پر ځینو به یې لاندې بحث وشي، خو له دې مخکې، باید دا پوښتنه ځواب شي چې آیا د سازمان دریځونه او پرېکړې به د هغوی د غړو هېوادونو پر اجرایوي پالیسیو بدل شي که نه؟

## ایا د سازمان دریځونه د هغې د غړو اجرایوي پالیسي ګرځي؟

د پورته پوښتنې لپاره سم ځواب د سازمان د غړو هیوادونو د سیاسي چلند او دندو دقیقې ازموینې ته اړتیا لري. په دې حالت کې، موږ کولی شو ووایو چې ځینې هېوادونه د فلسطین مسلې په څېر مسلو کې ښکیل دي کوم چې تل د سازمان د مرکزي مسلې څخه یوه ده. که څه هم د دې سازمان دریځونه په عمده توګه مشورتي او غیر الزامي دي، یو شمېر اسلامي هېوادونو لکه ایران، اندونیزیا، مالیزیا او نور لا تر اوسه



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

اسراییل په رسمیت نه دی پېژندلی او ورسره هیڅ تعامل نه لري، پداسې حال کې چې ډېرو نورو اسلامي هېوادونو له اسراییلو سره په خپلو تعاملاتو کې محافظه کارانه عمل کړی او د فلسطین د مسلې په اړه یې په خپله پالیسي کې هیڅ بدلون نه دی راوستی، بلکې په ځینو مواردو کې یې له اسراییلو سره خپلې اړیکې پراخې کړې دي. همدارنګه د اسلامي هېوادونو په پالیسیو کې د بدلونونو نورې بېلګې هم شته. په سر کې د دې یوه روښانه بېلګه د افغانستان اسلامي امارت کیدای شي، ځکه په ۲۰۲۱ کال کې واک ته له رسیدو وروسته یې، د لویدیځو هېوادونو لخوا د انزوا کېدو سره سره، د اسلامي نړۍ سره د محتاط تعامل او په سیاسي خپلواکۍ د ټینګار پر بنسټ متوازنه پالیسۍ غوره کړه چې په اقتصادي او سیاسي اړخ کې د یو سیمه ییز ملګري په حیث تبدیل شوی دی. په وروستیو کلونو کې د سعودي عربستان او ایران دواړو هېوادونو ترمنځ ډیپلوماټیکې اړیکې بیا پیل شوې او هم یې په اړیکو کې تدریجي بدلونونه راغلي دي، چې دا د فرقه ییز تاوتریخوالي کمولو او د اسلامي همکارۍ او یووالي پیاوړتیا کې یو مهم بدلون ګڼل کیدای شي. د دې سربیره، داسې خنډونه او ننګونې هم شته چې د اسلامي همکاریو سازمان موخو ته رسېدل ناشوني کوي، چې پر ځینو به یې موږ لاندې بحث وکړو.

**۱- د اسلامي همکارۍ سازمان جوړښتي کمزورتیا:** د اسلامي همکارۍ سازمان د پرېکړې لیکونو د پلي کولو په وړاندې تر ټولو جدي خنډ د قانوني او سازماني وسایلو نشتوالی دی چې غړي یې د ګډو پرېکړو پلي کولو ته اړ باسي، مثلا د دې سازمان تر ټولو مهم وړاندیزونه، لکه د اسلامي پوځ جوړول، د اسلامي قضایي محکمې جوړول، د اسلامي ګډ بازار جوړول، یا د صهیونیستي رژیم تحریمول تل د غړو لخوا په رسمي اسنادو کې ټینګار او تصویب شوي، خو هیڅکله د پلي کولو مرحلې ته نه دي رسیدلي، چې له امله یې تصویبونه فقط د پرېکړه لیکونو تر کچې پاتې دي. همدارنګه د سازمان دننه د څارنې د خپلواک کمیسیون په نشتوالي هم یو خنډ دی چې پر دوره یي غونډو باندې د ډېر تمرکز پرځای د ځانګړي او پروژې پر بنسټ پلان جوړونې او عملیاتي برخې ته توجه زیاده کړې. بې له شکه دې ټولو ننګونو او خنډونو د سازمان لومړیتوبونو اغیزمنتوب کم کړی او د پرېکړه لیکونو د پلي کولو کې پاتې راتلل یې لامل شوي دي.

**۲- په سیاسي او ستراتیژیکو ګټو کې دوه ګونی والي:** یو بل بنسټیز خنډ چې د اسلامي همکارۍ سازمان کې اجماع او یووالي کمزوری کوي؛ د دوی د مذهبي او کلتوري مشترکاتو سره سره، د سازمان د غړو هېوادونو په سیاسي او ستراتیژیکو ګټو کې دوه ګونی والی دی. څرنګه چې دغو هېوادونو د بهرني سیاست، له نړیوالو قدرتونو سره د اړیکو او سیمه ییزو اتحادونو له پلوه د یو بل په وړاندې متنوع او ځینې وختونه متضاد چلندونه غوره کړي دي. د غړو هېوادونو اړیکې د متحده ایالاتو، چین او روسیې سره، د اقتصادي ګټو او جیوپولیتیک سیالۍ سره یوځای، د مخالفو دریځونو د غوره کولو لامل شوي دي. لکه د سوریې، یمن، لبنان او نورو مسلو په اړه د ایران او سعودي عربستان ترمنځ سیالي او همدارنګه د لویدیځو بلاکونو سره د ځینو غړو نږدېوالی؛

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

همدارنګه د ناټو سره د ترکیې ستراتیژیکې اړیکې یا په امریکامتحده ایالاتو باندې د ډېرو خلیجي هېوادونو اقتصادي انحصار، دا ټول د اسلامي یووالي لپاره د ننګونې په توګه د امت د مسلو په اړه متضاد دریځونو د نیولو لامل شوي دي.[8]

**۳- د لوېدیځو قدرتونو مستقیم او غیر مستقیم فشار:** یو بل مهم خنډ چې د سازمان په کړنو او دریځونو اغیزه کوي، د لوېدیځو قدرتونو په ځانګړې توګه د متحده ایالاتو لخوا په غړو هیوادونو مستقیم او غیر مستقیم فشار دی. دا فشارونه ممکن اقتصادي، امنیتي یا د رسنیو پورې اړوند وي، ځکه چې ځیني اسلامي هېوادونه په مالي توګه د لویدیځو مرستو پورې تړلي دي، همدارنګه نور د لویدیځو هېوادونو پانګونې ته اړتیا لري، پداسې حال کې چې ځینې یې د صهیونیستې رژیم د تېريو په وړاندې د څرګند دریځ نیولو یا د مسلمانانو د حقونو د سرغړونې په دفاع کې پر دوی د سیاسي بندیزونو په اړه اندیښمن دي. دغو فشارونو د اسلامي هېوادونو د تصمیم نیونې خپلواکي محدوده کړې او د اسلامي امت د استازيتوب لپاره یې د سازمان وړتیا تر پوښتنې لاندې راوستې ده.

## د تېرې غونډې د پرېکړه لیک محتوا ته یوه کتنه

لکه څنګه چې یادونه وشوه، د اسلامي همکارۍ سازمان وروستۍ غونډه د روان کال د جون پر ۲۱ او ۲۲ نېټه د ترکیې په استانبول کې ترسره شوه. البته، دا غونډه د اسلامي نړۍ د اندېښمنو بدلونونو په ځانګړې توګه د ایران، سوریې او لبنان پر وړاندې د اسراییلو د وروستیو بریدونو د څېړلو او د سیمه ییزو او نړیوالو ګواښونو په وړاندې د اسلامي امت یووالي د پیاوړتیا لپاره جوړه شوې وه. د دې غونډې په پریکړه لیک کې ۳۳ مسایل شامل دي چې د اسلامي امت د مختلفو ننګونو په اړه دي، د غونډې اصلي موضوعات په سیمه کې د اسراییلو د وحشیانه اقداماتو غندنه، د فلسطین د خلکو ملاتړ او د اسلامي هېوادونو ترمنځ د ډله ییزې ډیپلوماسۍ د پیاوړتیا پر اړتیا ټینګار و، چې د دې غونډې په وروستۍ پرېکړه لیک چې د "استانبول پرېکړه لیک" تر سرلیک لاندې خپور شو. لکه څنګه چې د دې پرېکړه لیک په شپږمه ګڼه کې ویل شوي او په غزه کې د صهیونیستې رژیم د نسل وژنې په اړه دی. "موږ اسراییل د نیواکګر ځواک په توګه چې د نسل وژنې په موخه د لوږې څخه د یوې طریقې په توګه کار اخلي، د ملګرو ملتونو د بشري سازمانونو د ماموریتونو د پلي کولو مخه، غزې ته د بشري مرستو د ننوتلو مخه نیسي او صهیونیستي رژیم موخه د فلسطیني نفوس په زوره بې ځایه کول دي، په کلکه غندو. په دې برخه کې موږ د فلسطیني وګړو د هر ډول جبري بې ځایه کول ردوو، د لارو او پولو د سمدستي پرانیستلو، د بشري مرستو د بې خنډه او څنډه او کافي رسولو او د فلسطیني ملکي وګړو د ساتنې غوښتنه کوو."[9]



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د دې اعلامیې او د دې سازمان د نورو پرېکړه لیکونو له مخې، دا لیدل کیدای شي چې د فلسطین مسله د دې سازمان د سیاسي او اخلاقي ماموریت مرکزي مسله ده او تل یې د اسراییلو د صهیونیستۍ رژیم د اشغال کړنې غندلي دي. دا په داسې حال کې چې له نږدې دوو کلونو وروسته، اسراییل د غزې د مظلومو خلکو پر وړاندې د هر ډول جرم له ترسره کولو څخه ډډه نه ده کړې؛ خو دې سازمان په دوامداره توګه غندلی او د خپلو غړو لخوا یې د کوم عملي اقدام غوښتنه نه ده کړې. په ورته وخت کې، د دې پرېکړه لیک دیارلسمه ګڼه کې پر ایران د اسراییلو پوځي برید ته اشاره شوې. "موږ د ایران د اسلامي جمهوریت پر وړاندې د اسراییلو یرغل په کلکه غندو، په بېړنۍ ډول د اسراییلو د بریدونو پر بندولو ټینګار کوو او د زیاتوالي په اړه یې خپله ژوره اندېښنه څرګندوو چې په سیمه کې بشري، اقتصادي او چاپېریالي وضعیت ګواښوي."[10] خو په قطر کې د امریکامتحده ایالاتو د العدید پر اډې د ایران د توغندیو له برید څخه یوه یا دوه ورځې وروسته، که څه هم قطر ته کوم زیان نه دی رسیدلی، د اسراییلو په پرتله د اسلامي هېوادونو له خوا د غندنې غږونه ډېر خبرونه جوړ کړل.

دا هم باید له ویلو پاتې نه شي چې که څه هم د افغانستان موضوع د وروستۍ غونډې له اصلي موضوعاتو څخه نه وه، خو د سازمان د بهرنیو چارو وزیرانو لخوا د یوې ضمني موضوع په توګه ورته پاملرنه شوې ده. د مثال په توګه، مالیزیا او قرغزستان په ضمني ډول د افغانستان د نړیوالې ټولنې سره د یوځای کېدو مسله د محوري غونډو او ډیپلوماتیکو غونډو له لارې یادونه کړې ده.[11] لکه څنګه چې مخکې وویل شول، د ترکیې د بهرنیو چارو وزارت د جنوبي اسیا د څانګې د مشر او د افغانستان لپاره د اسلامي همکاریو سازمان د ځانګړي استازي ترمنځ په یوه غونډه او بحث کې د اوسني افغان حکومت سره د دوامداره رغنده اړیکو پر اړتیا ټینګار وشو او د ترکیې لخوا د افغانانو لپاره په مختلفو سیاسي، اقتصادي او بشري اړخونو کې د اغیزمن ملاتړ غوښتنه وشوه.[12]

په دې غونډه کې د ۴۰ څخه زیاتو بهرنیو چارو وزیرانو په مستقیم ډول ګډون کړی و، چې د ګډون دا لوړه کچه او د سیمه ییزو بدلونونو په ځانګړې توګه د فلسطین او مسلمانو هېوادونو په وړاندې د اسراییلو تېری، اهمیت او حساسیت منعکس کوي.

### پایله

د اسلامي هېوادونو د تنظیم او لاربوونې په برخه د اسلامي همکاریو سازمان د خپلو دوریې غونډو، خپرو شویو پرېکړه لیکونو د خبرو اترو او څرګند همغږۍ تر حده  ښه رول لوبولی دی، خو پورته ذکر شویو ټکو ته په پام سره، د اسلامي همکاریو سازمان د ډیپلوماسۍ په برخه کې د دریځ بیا کتنه د اسلامي هېوادونو د بهرني سیاست په چوکاټ کې د چلندونو، لومړیتوبونو او د تعامل د لارو چارو لکه څنګه چې د پیچلو نړیوالو

پرمختګونو سره مخ دي د بنسټيز بياکتنې مفهوم وړاندې کوي.دا د سازمان د کمزورتياوو او د موجوده جوړښتونو د بې کفايتۍ د بيا ارزونې اړتيا څرګندوي. دا مسله د اسلامي امت ترمنځ د تنوع د منلو مفهوم هم منعکس کولی شي، چې ستراتيژيک يووالي ساتل او د لويديځ او ختيځ قدرتونو له لارې نه، بلکې د سازمان دننه د خبرو اترو له لارې د اختلافاتو حل کولو باندې ټينګار کول دي. په دې صورت کې، هيله ده چې د فلسطين مسله، بشري بحران، علمي او اقتصادي فقر او نور به د اسلامي هېوادونو د ګډ بهرني سياست د محور په توګه وپيژندل شي.

## وړانديزونه

۱. دا اړينه ده چې د سازمان دننه يو قانوني قوی ميکانيزم رامنځته شي ترڅو د سازمان پريکړې ليکونه د غړو هېوادونو لپاره د پاليسي جوړونې تر حده واړوي.

۲. د سياسی محوره کمکونو لرې يو خپلواک ګډ اسلامي صندوق په جوړولو سره د سازمان اقتصادي خپلواکي پياوړې کړي.

۳. د غړو هېوادونو لخوا د سازمان د پريکړو د پلي کولو د تعقيب لپاره بايد يو خپلواک څارونکی کميسيون جوړ شي.

۴. د غړو هېوادونو او حتی په يوه اسلامي هېواد کې د ډلو ترمنځ د شخړو د حل لپاره د لويديځ او ختيځ قدرتونو پرځای بايد د سازمان دننه د خبرو اترو له لارې ترسره شي.

## سرچيني


1. منظمة التعاون الإسلامی: تاريخ المنظمة، لينک:
2. منبع سابق
3. اتحاد وکالات انباء دول منظمة التعاون الإسلامی: با تصميم وزرای خارجه سوريه عضويت خود در سازمان همکاری اسلامی را از سر گرفت، 8 مارچ 2025، لينک:
4. الجزيرة نت: أقرت إنشاء صندوق إغاثي لأفغانستان.. ماذا تعرف عن منظمة التعاون الإسلامي؟ 7 مارچ 2022، لينک:
5. الجزيرة نت: قمة الرياض تطالب بقرار ملزم لوقف حرب غزة وحظر الأسلحة لإسرائيل، 2024/11/11، لينک:
6. اتحاد وکالات انباء دول منظمة لتعاون الاسلامی؛ سازمان همکاری اسلامی، لينک:
7. منظمة التعاون الإسلامی: الجامعات الإسلامية، لينک:
8. خبرگزاری جمهوری اسلامی: سازمان همکاری های اسلامی در بوته آزمايشی ديگر، 1391، لينک:
9. OIC: إعلان إسطنبول الصادر عن الدورة الحادية والخمسين لمجلس وزراء خارجية الدول الأعضاء في منظمة التعاون الإسلامي "منظمة التعاون الإسلامي في عالم متغير" إسطنبول، الجمهورية التركية 25 – 26 ذو الحجة 1446 ه 21-22 يونيو 2025، لينک:
10. سفارت جمهوری اسلامی ايران استکهلم، قطعنامه شماره pol-51/69 ، 4/10/ 1404 هـ.ش، لينک:
11. خبرگزاری توانا: ماليزيا وقرقيزستان: افغانستان بايد به جامعه جهانی بازگردد، 26 جون 2025، لينک:
12. اتحاد وکالات انباء دول منظمة التعاون الإسلامی: المبعوث الخاص للأمين العام لمنظمة التعاون الإسلامي لأفغانستان يلتقي المدير العام لإدارة جنوب آسيا بوزارة خارجية تركيا، 9 مارچ 2025، لينک:




Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز نادولتي، غير انتفاعي او خپلواک ارګان دی، چې په ۱۳۸۸ لمريز کال کې په کابل کې جوړ شوی. دغه مرکز د خپلو بې‌پرې او کره څېړنو له لارې، په افغانستان او سيمه کې د پاليسيو د ارزونې او بډاينې لپاره فعاليت کوي.

**اړيکه:**

ايميل: info@csrsaf.org

وب سايت: www.csrsaf.org

شمېره: +93780618000

+93780618000